**مطبوعاتي اعلامیه**

## د پانګوال نظام تر چتر لاندې د سړک شبکې - د رغولو پر مهال ناورین

حزب التحریرـ کینیا له هغو کورنیو سره خپله خواخوږي څرګندوي، چې د انزو سمندر په پېښنه کې یې خپلوان او د کورنیو غړي په سیلاب کې د بس د ډوبېدو له امله له لاسه ورکړل، همدارنګه په دې پېښنه کې د ټپیانو لپاره د بېړنۍ روغتیا هیله لري. ادعا کېږي چې په دې پېښنه کې ۳۳ کسان ووژل شول.

دا باید روښانه ووایو چې دا ډول پېښې د انسان په کنټرول کې نه وي، خو انسان د خپلو کارونو د تر سره کولو مسوول دی، هغه که مسافر وي یا موټروان یا هم بل څه. همدارنګه د دولت لومړیتوب او مکلفیت د عمومي امنیت ټینګښت دی، چې د خپل رعیت لپاره داسې زیربناوې جوړې کړي، چې هغوی پرې په اسانۍ سره تګ راتګ وکړي او په دې سره د ټولو اوسېدونکو امنیت تامین کړي. سربېره پر دې، دولت باید پر داسې تدبیر کار وکړي، چې ډاډه شي د تګ راتګ ټول PSVS نقلیه وسایل د مسیر پیدا کولو وړتیا لري.

دا او له دې مخکې پېښې ښیي چې د سړکونو دا حالت ښایي نورې پېښې هم رامنځ ته کړي. د پراخ فساد له امله د سړکونو نښلول، هېڅکله نه شي کولای چې د دې کار مخه ونیسي، چې هره ورځ ترسره کېږي او د باران پر مهال، دغه سړکونه او صعب العبوره سیندونه د مرګ پر پلونو بدلوي. د خواشینۍ ځای دی چې ځینې سیمې ان د سړک یوه شبکه هم نه لري، خو بیا هم لوړ مالیات پرې لګول کېږي، چې د عادي اوسېدونکو ژوند یې سخت کړی دی. دا د پانګوال نظام او حاکمو نظامونو ماهیت دی چې عمومي ګټو ته لومړیتوب نه ورکوي. د قدرت لپاره په جګړه کې، پانګوال سیاسیون په هیلیکوپټرونو کې ګرځي او د رایو ورکولو لپاره جګړه کوي، خو پر ټلویزیونونو کې هغه کسان نه ویني چې په سیلاب کې ډوبېږي! دا د پانګوال نظام او رهبرانو اصلي تصویر دی چې د بېوزلو پر مرګ سترګې پټوي.

له همدې امله موږ حزب التحریر په کلکه اعلان کوو چې دا ناوړه حالت به تر فاسد پانګوال نظام لاندې تر هغه وخته پورې دوام ومومي، تر څو چې سیاسي بقا د عامه ګټو او انساني ژوند څخه پورته بلل کېږي. له همدې امله موږ پر ټولو

خلکو غږ کوو چې د اوسني فاسد نظام ځخه د اسلام بشپړ نظام لپاره، چې بنسټیز بدلون رامنځ ته کوي، ملاتړ او کار وکړي. په حقیقت کې، اسلام یوازینی نظام دی چې د مسافرینو د خوندیتوب په ګډون د عامه ګټو مسلې د متحرکو کښتیو د تفتیش او د زیربناوو د استحقاق له لارې لوی مسوولیت پر غاړه اخلي.

**شباني موالیمو**

**د حزب التحریر- کینیا مطبوعاتي دفتر استازی**

**۱۴۴۳ هـ.ق، د جمادي الاول ۲مه**

**۲۰۲۱م، د ډسمبر ٦مه**

**د صدور ګڼه: ۰۵/ ۱۴۴۳**